## مطبوعاتي اعلاميه

**که د پاکستان د پوځ افسران او سرتېري مخلصه رهبري ولري، په ډېره اسانۍ به د امريکا او هند شيطاني اړيکو ته د پای ټکی کېږدي**



د ۲۰۱۷م د نومبر پر ۲۲مه د چهارشنبې په ورځ، د پاکستان د پوځ يو جنرال اسحاق په اسماعيل خان ديره کې سهار وختي د پلټنې عملياتو په ترڅ کې خپل ژوند قرباني کړ. پاکستاني ځواکونه د امت بچيان دي او هرکله يې، چې د قربانۍ خبر راشي ټول امت پرې دردېږي. د جنرال اسحاق او د هغه د يو کلن زوی د موسکا انځور د امت زړونه ودردول او د نومورې د مړينې غم يې لا زيات کړ. الله سبحانه وتعالی دې د هغه گناهونه وبښي او کورنۍ ته دې صبر ورکړي.

په دغو ورستيو ورځو کې د پاکستان د پوځ زياتو افسرانو او سرتېرو د عملياتو او پرې د بريدونو پر مهال خپل ژوند قرباني کړ. په دې کې هېڅ شکه نشته، چې د پاکستان د پوځ افسران او سرتېري زړور، زيارکښ او ځواکمن دي. موږ کولی شو دوی د ځواک او وړتيا له اړخه په نړۍ کې له ټولو ځواکمنو ځواکونو سره پرتله کړو. خو د داسې ځواکمن پوځ پر درلودلو سربېره، امت بيا هم له خپل قدرت څخه بې برخې دی. سره له دې چې امت دومره زړور افسران او سرتېري لري، هند تر اوسه په کشمير کې خپل اشغال ته دوام ورکوي او پر مسلمانانو ظلم کوي. دا له حقيقته لرې خبره ده، چې امت داسې زړور افسران او سرتېري ولري؛ خو بيا هم د امريکا سياسي او پوځي مشران پاکستان ته په

کبر راځي او پر موږ امر کوي، په رښتیا چې لوی سپکاوی دی. په حقیقت کې د پاکستان مسلمانان او د دوی پوځ د امت په منځ کې، تر ټولو غوره دي؛ خو د مخلصې رهبرۍ د نشت له امله امت او پوځي ځواکونو ته په پاکستان کې په نړیواله سطحه سپکاوی کېږي. د پاکستان مسلمانان او پوځي ځواکونه یې له الله سبحانه وتعالی پرته له چا نه وېرېږي؛ خو د دوی په سیاسي او نظامي مشرۍ کې څو خاینان دي، چې د الله سبحانه وتعالی په پرتله له امریکا څخه ډېر وېرېږي. د پاکستان مسلمانان او پوځي ځواکونه د دې وړ نه دې، چې د داسې بې غیرتو او خاینانو له لوري رهبري شي، چې د امریکا د ګټو لپاره زموږ د بچیانو وینې تویوي او د اسلام او مسلمانانو ګټې له پامه غورځوي.

**اې د پاکستان مسلمانانو! اې د پاکستان د پوځ افسرانو او سرتېرو!** جنرال اسحاق او نور افسران د امت بچیان دي او د دوی وینه دومره ارزانه نه ده، چې په سیاسي او پوځي مشرۍ کې یې خاینان د امریکا د ګټو خوندي کولو لپاره وپلوري. دوی د امت بچیان دي او امت پر دوی حق لري، چې وینه یې باید یوازې له اسلام او مسلمانانو څخه په دفاع کې توی شي. خو دا به هغه وخت وشي کله، چې له سیاسي او نظامي مشرۍ څخه خاینان لرې شي او پر نبوي منهج اسلامي خلافت تاسیس شي. بیا به نو راشده خلافت د امت دغه زړور بچیان له اسلام او مسلمانانو څخه د دفاع لپاره خوځوي، دوی به د خالد بن ولید، محمد بن قاسم، طارق بن زیاد او صلاح الدین ایوبي تاریخ را ژوندی کړي او د اسلام بیرغ به پر ټوله نړۍ ورپوي.

﴿إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُواْ وَجَاهَدُواْ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أُوْلَـٰئِكَ هُمُ ٱلصَّادِقُونَ﴾

[الحجرات:۱۵]

*ژباړه: په حقیقت کې هغوی مومنان دي، چې پر الله او د هغه پر پیغمبر ایمان راوړي او شک ونه کړي او په خپلو مالونو او سرونو سره د الله په لاره کې جهاد کوي. همغوی رښتیني خلک دي.*

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: PR17078**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ربیع الاول ۴مه**

**۲۰۱۷م، د نومبر ۲۴مه**